**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

فارو ۲۰۱٤/۰٥/۲۸

په اروپا کی د میشـته افغانانو د تولنو فدراسـیون
فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe

# ډ پاکستان د اردو راکتونه افغان ملکی وګړی په نبنه کوی

د پاکستان اسلامی جمهوریت برسیره په نیابتی جګړه چه د طالبانو په ذریعه د افغانستان د امنیت، ثبات او پرمختګ د مخنیوی دپاره مخ ته بوزی، د ډیرو کلونونه را پدی خواه په علنی توګه هم د افغانستان پر سرحدی خلکو او کلیو باندو باندی راکتی جګړه ته ادامه ورکوی. د پاکستان راکتی جګړه د خاص ستراتیژیک او نظامی اهدافو د لاس ته راوړو د پاره مخ ته بیول کیږی. پاکستان غواړی ددغه راکتونو په واسطه د سرحدی ولسوالیو خلک پدی مجبوره کړی چه د خپل کلیونه کډه وکړی. اټکل کیږی چه دپاکستان دوهم قدم به دا وی چه د یو ټاکل شوی سناریو په اساس د القاعده او طالبانو پرځینی پټ ځایونو باندی هوایی دزی وکړی او بیا آی.اس. آی. ته وفادار ډلي د کډوالو ترنامه لاندی تش شوی مناطقو ته واستوی او د دیورند د کرښی پدی خوا کی هم خپل نفوذ زیاته کړی.

بی بی سی انګیسی ژبی وبسایت د۲۰۱۱ کال د جون د میاشتی په ۲۷ نیټه خبر ورکړ چه د پاکستان د۲۱ ورخني راکتی حملی نه وروسته، په تش شوی ځایونو کی سمدستی «کډوال» خای په خای شویدي. لند دا چه پاکستان بیاهم غواړی چه د۱۹۹۲ او۱۹۹۶ په شان خپل القاعده او طالب اجیران دننه په افغانستان کی ځای پرځای کړی او ځان داوسنۍ شرمجن نړیوال موقف نه وژغوری. یعنی القاعده او طالبان افغانستان ته صادر کړی خو د دوی واک پخپل لاس کی وساتی او هغوی د افغانستان او نورهیوادونو پرخلاف وکاروی. که د پاکستان دا پلان عملی شی، دا هیواد ادعا کولای شی چه د بین المللی تروریستانو پټ ځالي نور په پاکستان کی نه بلکه په افغانستان کی دي.
د فارو د پاره یوه بله د پاملرنی وړ خبره دا ده چه د پاکستان د دولت راکتونه ملکی اهداف په نبنه کوی. پاکستان پراستوګنی خایونو باندی ړوند راکتونه الوزوی او ګن شمیر ملکی خلک ددغه اوړدو اتڼ راکتونو سره وژل کیږی



یا ټپیان کیږی، کورونه ورانیږی او د خلکو په مینځ کښی ویره پیدا کیږی. د مثال په توګه د می د میاشتی په ۱۵ نیټه، دری اوږدو اتڼ راکتونه د پاکستان نه د ننګرهار ولایت دروداتود په ولسوالی باندی فیر شول. ددی نه یوه راکت د کمپ کابلی په نامه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د نجونو ښوونځی ته نږدی پداسی حال ولګیده چه شاګردان د درسونو د ختمیدو نه وروسته د ښوونځی نه وتلی وه چه دخپل کور خوا ته لاړشی. د دغه پاکستانی راکت سره یوه نجلی مړ او اته نورتپیان شول. عجیبه خبره داده چه غربی هیوادونه چه معمولاً دښځو او نجونو په مشکلاتو کی ځان شریک بولی، دخپل پنجابی دوستانو د تورمخ په خاطر، د افغان نجلي په ارتباط چوپتیا غوره کړل. د دغه حادثی نه دمخه، د جنوری د میاشتی په ۲۸ نیټه د کنرپه ولایت باندی د پاکستان داردو لس ګونه راکتونه ولګیدل چه د دری ماشومانو دمرګ او داتو نورو ماشوانو دټپی کیدو سبب شول.



په اوسنی نړی کی هیوادونه باید خپل کړوړد بین المللی قوانینو او اصولوپه چوکات کی وساتی. پاکستان ټول قوانین ترپښو لاندی کوی لیکن ځان دانکارترپردی لاندی پټوی. دراکتونوپه اړه هم پاکستان د انکار لاره غوره کړی ده او داسی ادعا کوی چه ګواکی دا اوړد واتڼ راکتونه دننه د افغانستان نه دافغانستان ددولت دمخالفینو لخوا الوزول کیږی. داادعا لدی کبله هم دخندا وړ ده چه افغانستان دولت اوافغان طالبان دا ډول راکتونه اصلاً نلری. دبین المللی حقوقو په اساس که د دوه هیوادونو تر مینځ رسماً دجنګ حالت هم موجود وی، نظامی حمله پرملکی اهدافو باندی جنګی جنایت بلل کیږی. هره راکت چه دپاکستان دخاوری نه افغانستان ته الوزل کیږی، دبین المللی حقوقونه سرغړونه اوجنګی جنایت بلل کیږی.

په ۲۰۱۲ کال کی دغه راکتونه په کونرکی د امریکایانو هدی ته لګیدلی وه. امریکایان وویل چه ددغه راکتونودفیر دځای په هکله تحقیقات کوی او دتحقیقاتو نتیجه خپروی. تر لوسه پوری امربکا دخپل تحقیق ننیجه نده اعلان کړی. درویترز دیورپورت له مخی ، په ۲۰۱۲ کال دجولای دمیاشتی په دوهمه نیټه فرامرز تمنا دافغانستان دخارجه وزارت ویاند وویل چه که په افغانستان باندی دپاکستان ددولت راکتی حملی بند نشی او دوام وکړی، دافغانستان دولت به دا مشکل ژرترژره دملل متحد امنیت شورا ته به وړاندی کړی. پاکستان خپل حملی ته دوام ورکړ. څواوني وروسته د۲۰۱۴ کال دجولای میاشت پیل کیږی خو دپاکستانی راکتونودقضیی په هکله خارجه وزارت لا تر اوسه پوری سکوت کړی ده. دافغانستان حکومت باید دا جرأت پیدا کړی چه دپاکستان ددغه تیریواسنادرا ټول کړی او دخپل ارضی تمامیت اودافغان ملت د دژوند اوانسانی کرامت نه د بین المللی قوانینوپه ملاتړ دملل متحد دټولنی اونړیوال افکارپه مرسته دفاع وکړی.

**"دفارودبشری حقوقوکمیټهٔ "**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ